Scotland's Census
Shaping our future
A' dealbhadh ar n-àm ri teachd

# د سکاټلند د 2022 کال د سرشمېرنې لارښود



د سکاټلینډ سرشمیرنه.
د سم شیانو ترلاسه کول، ورسره پیل کول **دا ډکول**

لاړ شئ census.gov.scot



# سرشمېرنه څه ده؟

**د سکاټلنډ سرشمېرنه په هېواد کې د هر فرد او کورنۍ رسمي شمېرنه ده.**
**دا معمولاً په هرو 10 کلونو کې یو ځل کېږي. په دې سرشمېرنه کې د خلکو د عمر، جنسیت، د ژوند او کور وضعیت، دنده، تعلیم او وړتیاوو او همدارز قومیت په اړه پوښتنې کېږي.**

د دغې سرشمېرنې ترسره کول ځکه مهم دي چې ځوابونه يې Scottish Government او د خدمتونو نور وړاندې کوونکو ته د مهمو پرېکړو کولو لپاره، چې د خلکو پر ژوند او ټولنو اغېز ښندي، اړین معلومات ورکوي.

په دې پرېکړو کې دا شاملېږي چې زموږ په ټولنو کې به پیسې څنګه پر مهمو خدمتونو لګېږي؛ لکه تعلیم، کور برابرول، روغتیایي پاملرنه، سړکونه او رېل پټلۍ او داسې نور.

## د سرشمېرنه ورځ کله ده؟

د سرشمېرنې ورځ یکشنبه، د مارچ 20مه ده؛ خو تاسو کولی شئ د لیک له ترلاسه کولو وروسته ژر چې کېږي په انلاین بڼه خپله سرشمېرنه بشپړه کړئ. په هر حال، ځوابونه باید یکشنبه، د مارچ په 20مه ستاسو کورنۍ منعکسه کړي.

## څنګه خپله سرشمېرنه وکړم؟

تاسو خپله سرشمېرنه هم انلاین کولی شئ او هم یې د کاپي پاڼې غوښتنه کولی شئ. د 2022 کال د فبرورۍ له پای ته رسېدو وروسته به کورنۍ یو لیک له دې لارښوونې سره یو ځای ترلاسه کړي چې څنګه خپله انلاین سرشمېرنه بشپړه کړي.

د سرشمېرنې د بشپړولو وېبپاڼه به د فبرورۍ له 28مې وروسته فعاله وي.

1. لیدنه وکړئ www.census.gov.scot
2. کلیک وکړئ **START**
3. له ترلاسه شوي لیک څخه مو انټرنېټ ته د لاسرسي یوازینی کوډ د ننه کړئ.
4. پر سکرین لارښوونې وڅارئ

که کاپي پاڼې ته اړتیا لرئ یا که انټرنېټ ته د لاسرسي نوی کوډ غواړئ، دلته لاړ شئ **census.gov.scot**
یا په دغه شمېره د مرستې کرښې ته زنګ ووهئ **0800 030 8308**.

## زه باید دا بشپړه کړم؟

هو. دا په سکاټلنډ کې د هرې کورنۍ قانوني مسولیت دی چې د سرشمېرنې یو پوښتنلیک بشپړ کړي. له دې ډاډ ترلاسه کول مهم دي چې سرشمېرنه د ټول ملت په اړه کره او له جزیاتو سره معلومات وړاندې کړي.

هر څوک چې په یوه ملکیت کې اوسېږي، مالک يې وي یا یې اجازه کړی وي یا د کورنۍ بېلونه ورکوي؛ د دغې سرشمېرنې د بشپړولو مسول دی. که تاسو د پاملرنې په کور، د اقامت په هال یا لیلیه کې اوسېږئ او عمر مو له 16 کالو لوړ دی؛ تاسو باید فردي سرشمېرنه بشپړه کړئ او همداراز د ټولنیز تاسیس په پوښتنلیک کې ونډه واخلئ.

# که پر پوښتنو پوه نه شم، بیا؟

کله چې د بشپړولو وېبپاڼه (census.gov.scot) د فبرورۍ له 28مې وروسته فعاله شوه، تاسو به په دې اړه له جزیاتو سره لارښوونې پیدا کړئ چې څنګه په لاندې ذکر شویو ژبو پوښتنې ځواب کړئ. دلته زموږ د مرستې پر کرښه د ژبې نور ملاتړ هم شته **0800 030 8308**.

| | | | |
|---|---|---|---|
| **عربي** | **ګیلیک** | **مندارین** | **روسي** |
| **کانټوني** | **هندي** | **پولندي** | **سلواکیایي** |
| **چکي** | **کردي** | **پنجابي** | **ترکي** |
| **فارسي** | **لېتوانیایي** | **رومانیایي** | **اردو** |

# که معلولیت ولرم، بیا؟



موږ د معلولیت له لړ ډلو سره کار کوو چې دا ډاډه کړو چې سرشمېرنه د امکان تر کچې د لاسرسي وړ ده. که تاسو ملاتړ ته اړتیا لرئ یا غواړئ په یوه بېل فارمټ د پوښتنلیک کاپي ترلاسه کړئ، د مهربانۍ له مخې د اړیکو له مرکز سره په اړیکه کې شئ یا دلته لاړ شئ **census.gov.scot**. تاسو دغه راز په خپله سرشمېرنه کې له پاملرنه کوونکي، ملګري یا خپلوان څخه د مرستې غوښتنه کولی شئ.

که د اورېدو یا خبرو کولو ستونزې لرئ، مهرباني وکړئ د پیغام خدمتونه وکاروئ دلته **18001 0800 030 8308**.

# ایا زما د سرشمېرنې معلومات خوندي دي؟

هو. مخکې له دې چې موږ د سرشمېرنې معلومات خپاره کړو، ټول شخصي معلومات ترې لرې کوو تر څو ډاډه شو چې افراد یې د ځوابونو له مخې نه شي پېژندل کېدی. د سرشمېرنې معلومات 100 کاله نه خپرېږي او دولت ژمن دی تر څو ډاډ ترلاسه شي چې د هغو کسانو شمېر ډېر کم ساتل شوی چې دغو معلوماتو ته لاسرسی لري.

# که لا هم مرستې ته اړتیا ولرم؟

زموږ د اړیکو مرکز به د فبرورۍ له 28مې وروسته فعال وي او په لاندې شمېره به له هرې ځمکنۍ کرښې یا موبایل څخه اړیکه ورته وړیا وي **0800 030 8308**. په لاندې پته د وېب چټ له لارې هم اړیکه راسره نیولی شئ **census.gov.scot**

## د سکاټلېنډ سرشمیرنه.
## د سم شیانو ترلاسه کول، ورسره پیل کول **دا ډکول**

**لاړ شئ census.gov.scot**